قرآني بيان

# ستا ذِکر اوچت دے

(پاره:30، سورة والضحی:4)

**26-September-2025**

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

د جُمعةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 26 ستمبر، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 3 ربیع الآخر، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

(پارہ:30، سورۃ وَالضُّحٰی:4)

# ستا ذِکر اوچت دے

پہ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مکے مکرمې د کافِرانو بے کاره سازش
- د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر زیاتیږي
- د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا شانونه
- خلق راوګرځیدل د چرته چرته نه ستاسو دپاره

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللهِ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللهِ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

شفاعت کوونکي آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې په ما باندې سحر او مابښام 10، 10 کرته دُرُودِ پاک لولي، د قيامت په ورځ به زما شفاعت د هغهٔ نصيب کيږي۔ (1)

| | |
|---|---|
| عاصیو! جرم کی دوا ہے درود | کیا دوا عین کیمیا ہے درود |
| ایک ساعت میں عمر بھر کے گُناہ | کرتا مَعْدُوم اور فنا ہے درود |
| چھوڑیو مت درود کو کافیؔ | راہِ جنّت کا راہنما ہے درود (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰی ؕ ﴿۴﴾ (پاره:30، سورۂ الضحیٰ:4)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ... ترغیب وترہیب، کتاب: نوافل، صفحه:223، حديث:29۔
2 ... کافی کی نعت، صفحه:39 ملتقطًا۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان او د عظمت عظیمُ الشان قرآني سورت سورۀ وَالضُّحٰی د تشریح او وضاحت د اوریدو سعادت حاصلوو، نن به مونږ د سورۀ وَالضُّحٰی د څلورم آیت مبارک او د دې پۀ ضمن کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان د اوریدو سعادت حاصلوو- د الله پاک پۀ بارګاه کښې دُعا ده چې مونږ ته د قرآنِ کریم د زده کولو، لوستلو، پۀ دې د ځان پوهه کولو او پۀ دې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د آیت مبارک مختصر خُلاصه

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** الله پاک خپل اخري نبي، د وَالضُّحٰی مخ والا، زُلفِ وَالَّیل والا نبي، محبوب نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ښکلي ښکلي لقبونه ورکړي دي او د هغوئي پۀ بے مثاله شانونو، عظمتونو او رفعتونو پۀ بیان کښې یې ارشاد فرمائیلے دے:

| | |
|---|---|
| وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ؕ ﴿۴﴾<br>(پاره:30، سورۀ الضحٰی:4) | **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے- |

مونږ اوریدلي وو کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت اعلان وفرمائیلو نو د هغې نه پس د یو څو ورځو د پاره وَحي راتلل بند شول، پۀ دې باندې کافرانو اعتراض وکړو چې مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغوئي رَبّ پریښودے دے- د دې پۀ جواب کښې رَبِّ کائنات وفرمائیل: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو پۀ روښانه مخ مې دې قَسم وي---!! ستاسو پۀ وَالَّیل زلفو مې دې قَسم وي! ستاسو رَبّ نۀ تاسو پریښودي يې، نۀ هغه ستاسو نه ناراضه شوے دے، اوس پۀ دې آیت مبارک کښې دا وئیلے کیږي چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا غیر مسلمه ستاسو د عظمت نه څۀ خبر

دي--!! تاسو هُغه ښکلے محبوب یې چې ستاسو پۀ شان او عظمت کښې، پۀ رفعت او اوچت والي کښې، مقام او مرتبه کښې، عزت او شوکت کښې به زیاتوالے کیږي او روان به وي ، پۀ دې کښې هیڅ وخت، د لږ ساعت د پاره، یوه ورځ هم د هیڅ کمي هیڅ قِسمه تصور نشته۔

فرش والے تری شوکت کا عُلُو کیا جانیں؟
خُسرُوا عرش پہ اُڑتا ہے پھریرا تیرا (1)

## د آیت مبارک دوه معنې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

وَ لَلۡاٰخِرَةُ خَیۡرٌ لَّكَ مِنَ الۡاُوۡلٰی ؕ ﴿۴﴾ (پارہ:30، سورۃ الضحٰی:4)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے۔

دلته د دوو خبرو بیان دے: (1): یو ده د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماضي او (2): یو دے د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مستقبل یعنې یو لفظ دے: اَلۡاٰخِرَۃُ (راتلونکے ساعت) او دویم لفظ دے: اَلۡاُوۡلٰی (تیر ساعت)- د دې دواړو نه څۀ مُراد دے؟ مفسرینِ کرامو د دې دواړو لفظونو دوه دوه مطلبونه بیان کړي دي-

## د آیت مبارک وړومبۍ معنیٰ

د دې یو تفسیر خو دا دے چې د اَلۡاٰخِرَۃُ نه هر راتلونکے ساعت، راتلونکې ګینټه، راتلونکې ورځ، راتلونکې هفته (*Week*)، میاشت (*Month*) او کال (*Year*) مُراد واخستے شي او د اَلۡاُوۡلٰی نه د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر تیر شوے ساعت مُراد وي- (2)

1...حدائقِ بخشش، صفحه:16۔

2...تفسیرِ کبیر، پارہ:30، الضحٰی، زیرِ آیت:4، جلد:11، صفحه:193 خلاصةً۔

پهٔ دې حالت کښې به د آيت مبارک معنیٰ او مطلب دا جوړيږي چې: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پهٔ هر ساعت، ګينټه او ورځ کښې به ستاسو درجې د اوچتو نه نورې هم اوچتيږي، تاسو ته به پهٔ عزت پسې عزت، پهٔ عظمت باندې عظمت، پهٔ رفعت باندې رفعت او شان او شوکت عطا کولے کيږي، ستاسو پهٔ مقام او مرتبه کښې به پهٔ يو ساعت کښې هم څه کمے نهٔ کيږي-

## د هغه ستاسو شان زياتول منظور دي

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ---!! تاسو لږ غور وکړئ! سورهٔ وَالضُّحٰی کله نازل شوے وو؟ د نبوت د اِعلان پهٔ اولني دور کښې---!!

اللّٰه! اللّٰه! مَکَّـةُ الـمُکَرَّمَه وادي (*Valley*) ده، د اِسلام اولنے دور دے، هر طرف ته صرف کُفر راخور دے، ابو جهل، عتبه، شيبه وغيره لوئي لوئي کافرانو، د مکے مکرمې سردارانو مخالفت ته ملا کلکه تړلې ده، تر دې پورې چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره ابو لـهب هم د دښمنانو پهٔ صف کښې ولاړ دے، افرادي قوت هم د هغوئي سره دے، اِقتدار هم د هغوئي دے، مال او دولت هم پهٔ ظاهره د هغوئي سره زيات دے او ټول کافران د اِسلام ختمولو د پاره پوره کوششونه کوي، پهٔ ظاهره د شمير يو څو مسلمانان دي او پهٔ مقابله کښې ورسره ټول د مکے مکرمې والا دي، پهٔ داسې حالت کښې رَبِّ کائنات د خپل محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره وعده وفرمائيله:

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰىؕ(۴)
(پارہ:30، سورۃالضحٰی:4)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تير نه بهتر دے-

لکه چې فرمائیلے کیږي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که دا کافران ډیر کوششونه وکړي خو ستاسو ذِکر به ختم نهٔ کړے شي، ستاسو رَبِّ کریم به ورځ پهٔ ورځ تاسو ته ترقي عطا کوي۔

مُیَسَّر کسی کو نہیں ایسی رفعت | کہ جیسا ہوا پایہ بالا تمہارا(1)

تاسو تاریخ ولولئ! لکه څنګه چې رَبِّ کریم وعده فرمائیلې وه، بالکل هم هُغه شان وشول، د مکے مکرمې کافرانو ډیر کوششونه وکړل، د دِین د تبلیغ نه د منع کولو د پاره یې تر خپل وَسه پورې زور هم ولګولو، چا چې به کلمه وئیله او مسلمانان کیدل به، پهٔ هغوئي باندې به یې زور زیاتے او ظلمونه هم کول، هغوئي به یې د عربو پهٔ ګرمی کښې، پهٔ سرو شوو شګو باندې هم سملولے کیدل، د اوسپنې پهٔ ګرمو سیخانو به یې د هغوئي وجود له داغونه هم ورکول، غرض د ظلم داسې کوم انداز وو کوم چې هغوئي نهٔ وو اِختیار کړے، مقصد یې صرف هم دا وو چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر (مَعَاذَ الله!) ختم شي، د هغوئي سره محبت کوونکي نهٔ زیاتیږي، اِسلام پهٔ دُنیا کښې هیڅکله خور نهٔ شي خو تاریخ ګواه دے چې د مکے مکرمې کافرانو چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر د ختمولو څومره هم کوششونه کول، دا مبارک ذِکر به هُغه همره نور هم اوچتیدو، دوئي اِسلام ختمول غوښتل خو د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان ورځ پهٔ ورځ نور هم زیاتیږي۔

تُو گھٹائے سے کسی کے نہ گھٹا ہے نہ گھٹے
جب بڑھائے تجھے اللہ تَعَالٰی تیرا(2)

---

1...قبالۂ بخشش، صفحه:29۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:29۔

# د مکے مکرمې د کافِرانو بےکاره سازش

پهٔ مکه مکرمه کښې يو ځائے وو، کوم ته چې به **دارُ النَّدوه** وئيلے کيدلو، کله چې د مکے مکرمې کافرانو دا وکتل چې مونږ اِسلام څومره ختمول غواړو نو اِسلام هم هٰغه همره نوره ډيره ترقي کوي، مونږ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر څومره هم ختمول غواړو نو دا هم هٰغه همره زيات خوريږي نو د مکے مکرمې والؤ پهٔ **دارُ النَّدوه** کښې يو لوئي کانفرنس کيښودو، پهٔ دې کانفرنس کښې د مَکَّـةُ الـمُكَرَّمَه ټول لوئي لوئي کافران، لوئي لوئي سرداران او دانشوران (هوښياران يعني پهٔ حقيقت کښې د عقل دښمنان) راجمع شول، شيطان هم د يو بوډا پهٔ شکل کښې راغلو، هغه هم پهٔ دې کانفرنس کښې شامل شو، د کانفرنس موضوع (***Topic***) دا وو چې زمونږه ټول کوششونه ناکامه کيږي، مونږ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ غلامانو باندې ظلمونه وکړل، هغوئي له مو د سختو نه سخت تکليفونه هم ورکړل، تر دريو کالو پورې مو د هغوئي سره هر قِسمه تعلق پريښودو او پهٔ شعبِ ابي طالِب کښې مو وږي تږي هم پريښودل خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر هم هٰغه شان اوچتيږي، اِسلام دے چې هم هٰغه شان خوريږي، ورځ پهٔ ورځ د مسلمانانو شميره زياتيږي، اخر به د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معامله څنګه ختمه کړے شو؟

عقل ہوتی تو خُدا سے نہ لڑائی لیتے | یہ گھٹائیں، اسے منظور بڑھانا تیرا[(1)]

کانفرنس شروع شو، ټولو کافرانو خپلې خپلې مشورې ورکړې، پهٔ اخر کښې ابو جهل ووئيل: زما دا رائے ده چې پهٔ ټولو قبيلو کښې دې يو يو بهادر وټاکلے شي، ټول دې خپلې تورې راواخلي او پهٔ يو ځائے دې پرې حمله وکړي او مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې شهيد

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:28۔

کړے شي (مَعَاذَاللہ! اَستَغفِرُاللہ!) بنو هاشِم خو د ټولو قبیلو سره جنګ نۀ شي کولے لهذاپۀ دِیت (یعني خون بها) اخستو باندې به راضي شي، لِهذامونږ ټول به پۀ شریکه هغوئي له دِیت ورکړو- داسې به نۀ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاتې شي او نۀ به اِسلام خوریږي-

ټولو پۀ دې رائے باندې اتفاق وکړو او هر ګس دا خطرناکه منصوبه واخسته او خپلو خپلو کورونو ته روان شول، دلته دې بد بختو سازشونه کول، هلته رَبِّ کائنات خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حکم وکړو چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نن شپه به هجرت کیږي- چې کله شپه شوه نو د هرې قبیلې یو یو بهادر توره راواخسته او د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور مبارک یې پۀ ولقه(محاصره) کښې واخستو-

اوس دلته د صاحِبِ خُلقِ عظیم، محبوبِ رَبِّ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلو اخلاقو ته هم وګورئ چې هُغه کافران کوم چې مَعَاذَاللہ! څاني دښمنان دي، هُم د هغوئي امانتونه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پراتۀ دي، رسولِ رحمت، شفیع اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه ټول امانتونه حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته حواله کړل، هغوئي یې پۀ خپله بستره مبارکه باندې سملولو او حکم یې وکړو چې سبا سحر دا ټول امانتونه د هغوئي مالکانو ته واپس کړه او مدینے منورې ته راځه- پۀ دې حکم ورکولو سرکارِ عالي وقار، رسولِ مالِک او مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کور نه بهر تشریف راوړلو، پۀ لاس مبارک کښې یې څۀ خاورې راواخستې او د سورۀ یٰسِین شریف تلاوت یې کولو او د ټول محاصره کوونکو پۀ سرونو باندې یې خاورې وروشیدلې او ووتلو او مدینے منورې طرف ته پۀ هجرت باندې روان شو- هُغه کومو ته چې بهادران وئیلے شو، کوم چې د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَعَاذَاللہ! د شهید کولو پۀ اراده باندې راغلي وو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د سترګو د وړاندې تیر شو خو هغوئي هډو اونۀ

لیدلو-[1] چرته دا کافران کوم چې مَعَاذَالله! د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر ختمولو د پاره تیار ناست وو، چرته هٔغه د مدینے منورې ښکلې ښکلې علاقه چرته چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ راتللو باندې جشن کیدلو- کافِرانو غوښتل چې دا ذِکر ختم شي خو رَبِّ کریم د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر نور هم اوچت کړو او د مدینے منورې پهٔ فضاګانو کښې د طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَیْنَا (زمونږ د پاره د څوارلسمې سپوږمۍ راوختله) نغمې خورې شوې-

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر--!! کوم چې کمیدل خو غتهٔ خبره ده د یو ساعت د پاره هم نهٔ کمیږي بلکې د مخکښې نه هم نور زیاتیږي-

مٹ گئے، مٹتے ہیں، مٹ جائیں گے اعدا تیرے | نہ مٹا ہے نہ مٹے گا کبھی چرچا تیرا[2]

او پهٔ یو ځائے کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لیکلي دي:

وہی دُھوم ان کی ہے ما شَآءَ الله! | مٹ گئے آپ مٹانے والے[3]

## د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر به ورځ پهٔ ورځ زیاتیږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خو د هٔغه زمانې خبره وه، نن ترقي یافته زمانه ده، د کمپیوټر او موبائل، انټرنیټ او سوشل میډیا دور دے، نن د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر ختمولو د پاره کوم کوم کوششونه نهٔ کیږي؟ ❁ مَعَاذَالله! د قرآنِ کریم بے حرمتیانې کیږي ❁ د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګستاخیانې کیږي ❁ د سوشل میډیا پهٔ ذریعه، یوټیوب، فیس بک، ټویټر وغیره پهٔ ذریعه غلط معلومات خورولے کیږي خلق پهٔ شک کښې اخته کولے کیږي ❁ د خوږ آقا و

---

1...الروض الانف، الملا من قریش یتشاورون فی امر الرسول، جلد:2، صفحه:339335 خلاصةً-
2...حدائقِ بخشش، صفحه:29-
3...حدائقِ بخشش، صفحه:161-

مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سیرت باندې هڅې بې هیڅه اعتراضونه کیږي ❁ د خلقو پهٔ ذهنونو کښې زهر اچولے کیږي ❁ د غیر مسلمو پوره پوره ادارې جوړې دي د کومو کار چې هم د خلقو بے لارې کول دي، غرض دا چې ❁ د دُنیا لوئي لوئي طاقتونه خپلې پیسې لګوي، طاقت استعمالوي ❁ پهٔ مسلمانانو باندې ظلم زور کولے کیږي او دا هر څهٔ ولې کیږي؟ ❁ صرف او صرف د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر ختمولو د پاره ❁ د اِسلام د ختمولو د پاره---!!

خو قربان شم! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر ودرولو د پاره، د اِسلام د ختمولو د پاره چې څومره کوششونه کولے شي، اِسلام هم هُغه همره زیات خوریږي، د یو رپورټ مطابق پهٔ یورپ کښې هر کال اوسطاً یو لاکھ خلق کلمه وائي او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامي اِختیاروي۔

اَللّٰهُ اَکْبَرُ! د دې یو لاکھ کسانو د مسلمانیدو پهٔ مطلب پوهیږی؟ هر کال د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذِکر کوونکو کښې یو لاکھ ژبې زیاتیږي، هر کال د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر اوریدونکي 2 لاکھه غوږونه زیاتیږي، هر کال د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ یاد کښې درزیدونکي یو لاکھ زړونه زیاتیږي۔

سُبْحٰنَ الله! دا دے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک ذِکر---!! دا دي زما د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځانګړې شانونه---!!

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰی ؕ ﴿۴﴾
(پارہ:30، سورۃ الضحٰی:4)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آیت مبارک دویمه معنیٰ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ؕ (۴)
(پاره:30، سورۂ الضحٰی:4)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے۔

د دې آیت مبارک دویم تفسیر دا بیان کړے شوے دے چې د اَلْاُوْلٰى نه مُراد دے: دُنیا۔ او د اَلْاٰخِرَةُ نه مُراد دے: د دُنیا نه پس والا ژوند۔ د دې تفسیر په لحاظ سره به د آیت مبارک معنیٰ دا جوړیږي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د دې دُنیا نه وروستو راتلونکے ژوند، د دې دُنیا د ژوند نه زیات بهتر دے۔ (1)

## د اُمت ترقي ورته وښودلے شوه

صحابئ رسول، سلطانُ المُفسرین حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته وښودلے شو چې ستاسو اُمت ته به خنګه خنګه ترقیاني او فراختیاګاني عطا کولے شي، ستاسو اُمت ته به خنګه په کافرانو باندې غلبه عطا کیږي، د خپل اُمت دا ښهٔ حال یې چې ولیدو نو محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوشحاله شو، په دې باندې دا آیت مبارک نازل شو او الله پاک وفرمائیل: (2)

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ؕ (۴)
(پاره:30، سورۂ الضحٰی:4)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تیر نه بهتر دے۔

یعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا خو د دُنیا عزت او ترقي او شان او عظمت

---

1...تفسیرِ کبیر، پاره:30، الضحٰی، زیرِ آیت:4، جلد:11، صفحه:193 خلاصةً۔

2...معجمِ اوسط، جلد:1، صفحه:173، حدیث:572 خلاصةً۔

دے، اللہ پاک ستاسو د پاره د دې دُنيا نه پس چې کوم عزتونه، رفعتونه، اوچت والے او شانونه تيار کړي دي، هغه د دې نه ډير زيات بهتر دي-

## تهٔ ژوندے يې وَاللّٰه! تهٔ ژوندے يې وَاللّٰه!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته ستاسو نه يوه وړه شان پوښتنه ده، لږ غور وکړئ! ژوندي پاتې کيدل ډير بهتر دي او که مړهٔ کيدل او فنا کيدل زيات بهتر دي؟ يقيناً چې هر هوښيار کَس به هم دا وائي چې ژوندي پاتې کيدل زيات بهتر دي- اوس پخپله غور وکړئ چې اللہ پاک خو فرمائي چې اے محبوبه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اللہ پاک تاسو ته پهٔ دې دُنيا کښې هم ډير اوچت شانونه عطا کړي دي خو د دې دُنيا نه د پردې فرمائيلو نه پس چې ستاسو کوم شانونه دي، هغه د دې شانونو نه زيات بهتر دي-

لِهذا معلومه شوه چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د دُنيا نه پرده وفرمائيله نو د هغوئي پهٔ شان او عظمت کښې هيڅ کمے رانغلو بلکې هُغه کوم چې د دُنيا ظاهري ژوند مبارک وو، رسول اللہ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نه د ډير زيات بهتر ژوند سره پهٔ خپل مزار مبارک کښې تشريف فرما دے- (1)

تُو زنده ہے واللہ! تُو زنده ہے واللہ! | مرے چشمِ عالَم سے چھپ جانے والے (2)

## د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا شانونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اللہ پاک فرمائي:

وَ لَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ؕ ﴿۴﴾
(پاره:30، سورۂ الضحٰی:4)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تير نه بهتر دے-

---

1...تفسير نور العرفان، پاره:30، الضحیٰ، زيرِ آيت:4، صفحه:716 ماخوذًا-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:158-

دلته الله کريم د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه قِسمه شانونه بيان کړي دي: (1): يو دي د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا شانونه (2): بل دي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخرت شانونه- الله پاک فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو چې کوم د اخرت شانونه دي، هغه د دې دُنيا د شانونو نه زيات بهتر دي-

اوس دلته دا غور کول دي چې په دُنيا کښې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانونه څهٔ دي؟ اَللّٰهُ اَكْبَر! ❁ زما خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه دے چې الله پاک هغوئي اَوَّل نبي هم جوړ کړے دے ❁ اخري نبي يې هم جوړ کړے دے ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مقصودِ کائنات هم دے ❁ مطلوبِ کائنات هم دے ❁ محبوبِ کائنات هم دے ❁ هُم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے د چا نوم مبارک چې په عرش باندې، په جنَّت کښې، د جنَّتي وَنو په پاڼو باندې ليکلے شوے دے ❁ هُم خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې د هغوئي رَبِّ کريم هم په هغوئي باندې دُرود ليږي، فرښتے يې هم ليږي او د هغوئي غلامان هم د دُرودِ پاک نذراني وړاندې کوي او د رحمت حقداران جوړيږي ❁ د هغوئي ذِکر د هغوئي رَبّ اوچت کړے دے ❁ هُم د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک دے چې

کونین بنائے گئے سرکار کی خاطر | کونین کی خاطر تمہیں سرکار بنایا[1]

❁ هم دا زما د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک دے چې

کُنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خُدا نے | محبوب کیا، مالِک و مختار بنایا[2]

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:47۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:48۔

❁ هُم دا زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے چې که عِلم دے که طاقت، رزق دے که مال او دولت، رَبِّ رحمان د هر نعمت قاسِم (تقسیمولو والا) هغوئي جوړ کړي دي-

اُس کی بخشش، اِن کا صدقہ | دیتا وہ ہے، دِلاتے یہ ہیں[1]

❁ هُم دا زما د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک دے چې

شَافع، نَافع، رَافع، دَافع | کیا کیا رحمت لاتے یہ ہیں[2]

❁ هُم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې کوم رَبِّ کریم د خپل ذات او صفتونو مظهر جوړ کړے دے ❁ هم دا زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک دے چې

اِنَّاۤ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ | ساری کثرت پاتے یہ ہیں[3]

❁ هُم رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے کوم چې رَبِّ کریم بُرهَان (روښانه او واضحه دلیل یعني قطعي ثبوت د کوم نه پس چې د هیڅ شک ګنجائش پاتې نۀ شي) جوړ کړو- هم دا د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک دے چې

دیئے معجزے انبیا کو خُدا نے | معجزہ بن کے آیا ہمارا نبی

❁ مخ مبارک یې داسې دے چې

---

1...الاستمداد، صفحہ:4۔
2...الاستمداد، صفحہ:4۔
3...الاستمداد، صفحہ:8۔

دیکھنے والے کہا کرتے ہیں اللّٰہ! اللّٰہ! | یاد آتا ہے خُدا دیکھ کے صُورت تیری[1]

❁ سترګې مبارکې يې داسې دي چې

جس طرف اُٹھ گئی، دم میں دم آ گیا
اس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام (2)

❁ رخسار مبارک يې داسې دے چې

نارِ دوزخ کو چمن کر دے بہارِ عارض
ظلمتِ حشر کو دِن کر دے نَہارِ عارِض (3)

❁ ژبه مبارکه يې داسې ده چې

وہ زباں جس کو سب کُن کی کنجی کہیں
اس کی نافِذ حکومت پہ لاکھوں سلام (4)

❁ د خُلې مبارکې شان ته يې وګورئ!

وہ دہن جس کی ہر بات وحیِ خُدا
چشمۂ عِلم و حکمت پہ لاکھوں سلام (5)

❁ غوږونه مبارک يې داسې دي چې

1...ذوقِ نعت، صفحه:248۔
2...حدائقِ بخشش، صفحه:300۔
3...حدائقِ بخشش، صفحه:71۔
4...حدائقِ بخشش، صفحه:302۔
5...حدائقِ بخشش، صفحه:302۔

دُور و نزدیک کے سننے والے وہ کان
کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام(1)

❁ لاسونه مبارک يې داسې دي چې

ہاتھ جس سمت اُٹھا غنی کر دیا
موجِ بحرِ سَماحَت پہ لاکھوں سلام(2)

❁ ګوتې مبارکې يې داسې دي چې

انگلیاں ہیں فیض پر، ٹوٹے ہیں پیاسے جھوم کر
ندیاں پنجابِ رحمت کی ہیں جاری واہ واہ(3)

❁ تر دې پورې چې د بنپو پوندې مبارکې ورته داسې عطا شوې چې

ایک ٹھوکر میں اُحُد کا زلزلہ جاتا رہا
رکھتی ہیں کتنا وقار اللہُ اکبر ایڑیاں(4)

غرض دا چې

مَظہرِ حق ہو تمہیں، مُظہِرِ حق ہو تمہیں
تم میں ہے ظاہِر خُدا تم پہ کروڑوں دُرود(5)

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:300۔
2... حدائقِ بخشش، صفحه:303۔
3... حدائقِ بخشش، صفحه:134۔
4... حدائقِ بخشش، صفحه:87۔
5... حدائقِ بخشش، صفحه:269۔

اللّٰه! اللّٰه! دا د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاکو شانونو بس لږ شان بيان دے، ګڼې نو زمونږ خو وَس دومره چرته دے، زمونږه دومره طاقت چرته دے؟

تیرا وصف بیاں ہو کس سے، تیری کون کرے گا بڑائی
اس گردِ سفر میں گم ہے جبریلِ امیں کی رَسائی

دا زما د محبوب آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُغه اوچت شانونه دي کوم چې هغوئي ته په دُنيا کښې عطا کړے شول او رَبِّ کريم فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ؕ ﴿۴﴾ (پارہ:30، سورۃ الضحٰی:4) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه ستا د پاره هر راروان ساعت د تير نه بهتر دے- |

اللّٰه! اللّٰه! دا په دُنيا کښې عطا کړے شوي شانونه دي، چې مونږ د دې شانونو اِنتها ته نشو رسيدے نو کوم شانونه چې به هغوئي ته په اخرت کښې عطا کولے کيږي، د هغې اندازه څوک لګولے شي---؟

## د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخرت شانونه

اَللّٰهُ اَکْبَرْ! د قيامت په ورځ باندې به د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه څنګه شانونه ظاهريږي؟ واورئ! ✿ د ټولو نه وړومبے به هم نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې روضې مبارکې نه بهر راوځي ✿ د محشر په ميدان کښې به په براق باندې کښيني او د 70 زره فرښتو په جلوس کښې به تشريف راوړي ✿ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم اذان به کولے شي ✿ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به جنّتي جامې اغوستلے کيږي ✿ د عرشِ اعظم ښي اړخ ته به تشريف فرما وي ✿ لِواءُ الْحَمْد (يعنې د حمد جنډه به) هغوئي ته عطا کولے شي ✿ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي ټول اولاد به د جنډې لاندې

راجمع وي ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته به مقامِ محمود عطا کړے شي، ټول مخکښيني وروستني، خپل پردي، ټول د محشر والا به هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعريف او ثنا کوي ❁ د ټولو نه وړومبے به هم اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک د ديدار سعادت حاصلوي ❁ هُم هغوئي به شفاعتِ کُبریٰ فرمائي ❁ هُم هغوئي به د جنَّت دروازه برسيره کوي ❁ خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ خُرُوْجًا اِذَا بُعِثُوْا کله چې خلق راپاڅولے شي، زۀ به د ټولو نه وړومبے راپاڅم وَاَنَا خَطِيْبُهُمْ اِذَا اَنْصَتُوا کله چې به خاموشه وي، هُم زۀ به د هغوئي خطيب يم وَقَائِدُهُمْ اِذَا وَفَدُوْا کله چې خلق ډله جوړه شي او راشي، زۀ به د هغوئي قائد يم وَشَافِعُهُمْ اِذَا حُبِسُوْا کله چې ټول خلق منع کړے شي، زۀ به د هغوئي شفاعت کولو والا يم وَاَنَا مُبَشِّرُهُمْ اِذَا يَئِسُوْا کله چې ټول مايوسه شي، زۀ به هغوئي ته زيري ورکولو والا جوړيږم- وَلِوَاءُ الْحَمْدِ بِيَدِی د حمد جنډه به زما په لاس کښې وي وَمِفْتَاحُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِیْ د جنَّت کنجي به هغه ورځ زما په لاس کښې وي وَاَنَا اَكْرَمُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَئِذٍ عَلٰی رَبِّیْ په هغه ورځ باندې به د الله پاک په نزد د آدم په ټول اولاد کښې زۀ د ټولو نه زيات عزت والا يم يَطُوْفُ عَلَیَّ اَلْفُ خَادِمٍ كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْن زر [1000] خادمان به د خدمت د پاره زما نه ګير چاپيره ګرځي لکه چې هغوئي پټ ساتلے شوي لعلونه دي- (1)

## خلق راوګرځيدل دچرته چرته نه ستاسو دپاره

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې سره سره هغه مشهور او معروف د شفاعت حديث هم لږ په ذِهن کښې راولئ! اَللہُ اَکۡبَر! 50 زره کاله هغه وحشت ناکه ورځ، زمکه به په اوسپنه بدله کړے شي، نمر به په يو ميل فاصله باندې وي او وور به وروي،

---

1...سبل الهدیٰ و الرشاد، الباب الثالث فيما اختص به نبينا ...الخ، الخامسة و الثلاثون، جلد:10، صفحه:386۔

خلق به پهٔ خولو کښې ډوب وي، ژبې به د تندې د دلاسه بهر راوتې وي، خوله به ښاخې او پهٔ زمکه کښې به جذب کيږي، تر دې پورې چې پهٔ زمکه کښې به د خولې د جذب کولو ګنجائش پاتې نهٔ شي، بيا به د خلقو خولې پهٔ زمکه باندې د پاسه بهيدل شروع شي، تر دې پورې چې د مرئ نه به هم تر بره پورې راشي، خلق به پهٔ دې کښې غوپې وهي، پهٔ ويره ويره به يې زړونه تر خُلو پورې راشي- خلق به د دې افتونو نه تنګ شي او غواړي به چې د دې مشکل نه پهٔ څهٔ طريقه نجات حاصل شي، که زيات نهٔ وي نو چې کم از کم حساب خو شروع شي، ټول به يو ځائے ته راجمع شي او د يو داسې ګس لټون به شروع کړي، چې د رَبِّ قَهَّار پهٔ حضور کښې د دوئي شفاعت وکړي، نو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ بارګاه کښې به حاضري وشي، هغوئي به اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِى فرمائي يعنې زما نه علاوه د بل چا خوا له لاړ شئ! (1) خلق به د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ بارګاه کښې حاضر شي، هلته به هم دا جواب بيامومي، بيا به د يو يو، د حضرت ابراهيم خليلُ الله، حضرت موسىٰ کليم الله، حضرت عيسىٰ رُوحُ الله عليهم السّلام غرض دا چې د ټولو انبيائے کرامو عليهم السّلام پهٔ خدمت کښې به حاضر شي، ټول به هم دغه فرمائي چې زمونږه دا مرتبه نهٔ ده، مونږ به دا کار اونکړے شو، تاسو د بل چا خوا له لاړ شئ! اخر به د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې حاضر شي، د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې به د شفاعت سوال وشي، هغوئي به وفرمائي: اَنَالَهَا(اَنَالَهَا) آؤ (آؤ!) زهٔ يم د شفاعت د پاره، زهٔ يم د شفاعت د پاره-

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِىْ
مرے حضور کے لب پر اَنَا ہو گا (2)

---

1...بخاری، کتاب التفسیر، سورۂ بنی اسرائیل، صفحہ:1183، حدیث:4712 خلاصةً۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:54۔

بيا به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَبِّ کريم پۀ حُضُور کښې سر پۀ سجده شي۔

خاک اُفتادو بَس اُن کے آنے ہی کی دیر ہے
خود وہ گر کر سجدہ میں تم کو اُٹھاتے جائیں گے(1)

سرورِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به سر مبارک پۀ سجده کښې کيږدي، رَبِّ کريم به وفرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اِرْفَعْ رَاْسَكَ سر مبارک راوچت کړئ! قُلْ يُسْمَعْ لَكَ اے محبوبه! ووايئ! ستاسو به اوريدے شي وَسَلْ تُعْطَهْ او وغواړئ! تاسو ته به درکولے شي وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ او شفاعت وکړئ! ستاسو شفاعت به قبلولے شي۔ (2)

سيدي اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: هم دا به هُغه مقامِ محمود وي، چرته چې به پۀ ټولو مخکښينو او وروستنو کښې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعريف او ثنا شور شي، هُغه وخت به پۀ خپلو پردو ټولو باندې دا خبره واضحه شي چې د اللّٰه پاک پۀ بارګاه کښې چې کوم عزت او وجاهت زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، د بل چا نشته۔

خلیل و نجی، مسیح و صفی، سبھی سے کہی کہیں بھی بنی
یہ بے خبری کہ خلق پھری کہاں سے کہاں تمہارے لئے(3)

بهر حال! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانونه دي، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان او عظمت او رفعت او عزت او شوکت ورځ پۀ ورځ زياتيږي او دا اضافه به هم دغه شان روانه وي، روانه به وي تر دې پورې چې قيامت راشي، بيا به ټول پۀ خپلو سترګو باندې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي،

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:156۔
2...بخاري، كتاب التوحيد، باب كلام الرب عزوجل يوم القيامة...الخ، صفحه:1809، حديث:7510 خلاصةً۔
3...حدائقِ بخشش، صفحه:351۔

مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان او عظمت ویني، هغه خو د قیامت ورځ ده، پۀ هُغه ورځ باندې خو به یـې د ابو جهل پۀ شان کافران هم مني، د اصل فضیلت خبره دا ده چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عظمتونه نن ومنلے شي-

آج لے اُن کی پناہ، آج مدد مانگ اُن سے
پھر نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا (1)

لهذا د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عزت او عظمت پۀ زړۀ کښې کښېنوئ! پۀ دې باندې پوخ ایمان وساتئ! نن سبا داسې وخت دے چې غیر مسلمه، د عاشقانِ رسول پۀ سینو کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت کمولو د پاره پوره کوششونه کوي، که سوشل میډیا ده او که انټرنیټ--!! بس د بد تمیزۍ یو طوفان راغلے دے، پۀ داسې حالاتو کښې د خپل ایمان فِکر ضرور کول پکار دي، د خپل خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ باره کښې نۀ څۀ کمزورے خیال پۀ زړۀ کښې راوستل دي، نۀ څۀ کمزورې خبره اوریدل دي او نۀ د داسې کمزورو خبرو کوونکو د خبرو طرف ته څۀ پام کول دي-

اُن کے در پر جیسے ہو مٹ جائیے! | ناتوانو! کچھ تو ہمت کیجیے!
اُن کے در پر بیٹھیے بن کر فقیر | بے نواؤ! فکرِ ثَروت کیجیے!
نعرہ کیجیے! یارسولَ اللہ کا | مفلسو! سامانِ دولت کیجیے!
جو نہ بھولا ہم غریبوں کو رضا | یاد اس کی اپنی عادَت کیجیے! (2)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:56۔
2... حدائقِ بخشش، صفحه:198196195194 ملتقطًا۔

# کلامِ اعلیٰ حضرت ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: ***Kalam-e-ala hazrat*** (کلامِ اعلیٰ حضرت)- دا ایپلي کیشن د ***Android*** ډیوائسز نه ډاؤن لوډ کیدے او اِستعمالیدے شي، په دې ایپلي کیشن کښې ❁ د حروفِ تهجي د ترتیب په حساب سره کلامونه شامل کړے شوي دي- ❁ په ایپلي کیشن کښې د هر یو کلام لټولو سهولت هم موجود دے ❁ د آئي ټي (***IT Department***) په مستقبل کښې په دې ایپلي کیشن کښې د لټولو د پاره د اُردو کي بورډ، د ردیف د حرفونو په حساب سره کلام، د لفظونو د ذخیرې یعني خدائقِ بخشش کښې د شاملو ټولو لفظونو، د مَدَني چینل د نعتونو سلسله نغماتِ رضا هم د شاملولو اراده ده-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

راځئ چې د بیان په اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

مسئله: د میلاد د محفل د پاره راجمع کړے شوې چنده په بل یو کار کښې استعمالول جائز نۀ دي-

وضاحت: د میلاد شریف په میاشت یعني ربیع الاول کښې عام طور چنده جمع کولے شي او محفلونه جوړولے کیږي- دا ډیر ښۀ عمل دے خو کومه چنده چې د محفل د پاره راجمع کړے شوه، هغه صرف هم د محفل د پاره استعمالیدے شي- بعضې وخت د چندې رقم پاتې شي نو د عِلمِ دِین د کمې په وجه خلق دا په نورو کارونو مثلاً جومات وغیره

کښې استعمالوي- داسې کول هیڅکله هم جائز نۀ دي- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د چندې روپۍ د چندې والؤ په ملکیت کښې وي- د کوم کار د پاره چې هغوئي چنده ورکړه، په هٰغه کار کښې استعمال نۀ شوه (مثلاً د محفل کولو نه پس پاتې شوه) نو فرض دي چې د چا چا نه چنده اخستے شوې وي، هغوئي ته دې واپس کړے شي، که هغوئي په بل څۀ نیک کار کښې د استعمالولو اجازت ورکړي نو بیا دې په هٰغه کار کښې استعمال کړے شي، که د ورکونکو پته نۀ لګي مثلاً د هغوئي نومونه نۀ وي لیکلے شوي، نۀ یاد وي چې چا چا چنده ورکړې وه، څومره څومره چنده یې ورکړې وه، په داسې حالت کښې هٰغه د چندې رقم په هر نیک کار (مثلاً جومات، مدرسه وغیره) کښې خرچ کیدے شي-[1]

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یَا مُقِيتُ

د چا سترګې چې سرې وي یا یې په سترګو درد وي نو هغه دې 10 کرته **یَا مُقِيتُ** ولولي او دم دې پرې کړي-[2] (الله پاک به ورته صحت عطا کړي) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...فتاوٰی رضویه، جلد:16، صفحه:247 بتغیر قلیل۔

2...مدنی پنج سورہ، صفحه:252۔